پوهندوی آصف بهاند

۲۰۱۴/۰۴/۰۶

# نوی نسل، مطالعه

## ستونزې او نوې هیلې

د۲۰۱۳ م کال د فبروری پیل کې مې، د«پردی چاپیریال او د کوچنیانو او ځوانانو د زدکړې مسأله» ترسرلیک لاندې د «مطالعه اوله مطالعې سره اړوندې ستونزې»پرموضوع باندې یوه مفصله مقاله خپره کړه(۱).د دې مقالي انعکاس او تأثیر، دومره چې زما هیله وه، د پاملرنې وړنه و.حتی تر دې چې ځینو د حساب وړ قلموالو راته وویل چې زما یاده مقاله د دوی له نظره تیره شوې هم نه ده.څه رسي تردې چې هلته په نښه شوو ستونزو ته یا پام وکړي، یا په دې کارکې زما په ملاتړ څه ولیکي اویا په دې برخه کې د نورو مقالو د لیکلو او د دې ستونزې د حل له پاره څه وړاندیزونه راته په مخ کې کیږدي؛خو زه مأیوسه نه شوم، خپل کارته مې ادامه ورکړه، په بیلابیلوشخصي او رسمي فرهنګي ناستوکې به مې د سواد، نوي نسل، د ښوونې - روزنې او په تیره مطالعې باندې نورهم خپل ټینګارته دوام ورکړ.

په تیره یاده مقاله کې ما ویلي وو:

«مطالعه او مطالعه کیدونکي شیان د فرهنګونو او نسلونو تر منځ د پلونو حیثیت لري.د مطالعې له لارې، هرنسل کولای شي چې له خپل تأریخ، فرهنګ، علمي لاسته راوړنو او... خبرشي؛ د خپل تیروخت، ترسره شویو کارونو او تجربوسره آشنا شي، د خدمتونو په څرنګوالي پوه شي، په ناکردو او نا دودوخبرشي، اوسنی حالت درک کړي چې چیرې دی او د راتلونکې په باب د وړاندوینې توان ترلاسه کړي او د ځان له پاره ځای او دریځ غوره کړي؛او دا هرڅه د مطالعې له لارې ترلاسه کیدای شي.(۱)

ځومره چې زه میډیا تعقیبوم، ګورم چې په دغه عصر کې د مطالعې اړتیا چې څومره د نورو خلکو له پاره محسوسه او اړینه ده، موږ دا اړتیا نه ده درک کړې.موږ لا د کاغذي کتابونو د پیداکولو، په کورکې یې د لرلو او ساتلواړتیا نه ده درک کړې .نورخلک په دې پوه شوي چې اوس کاغذي کتابونه یوازې د ډیکوریشن له پاره کارول کیږي، اوس نور خلک د کتاب وړلو ته اړتیا نه احساسوي، هرڅه په برېښنایي ډول په کمپیوتر، آیپډ او موبایل کې ورسره دي اوهرڅه چې یې زړه وغواړي همله‌ته یې په جیب کې پراته دي، مطالعه کوي یې.

کله کله یونیم قلموال د مطالعې او کتاب پر اړتیا چیرته غږ اوچت کړي او پر ښیګڼه او اړتیا یې غږیږي.دغو مثالونوته پام وکړئ:

- ګټوره مطالعه به څنګه کوو؟(۲)
- قفسه خالي کتاب کودک در افغانستان(۳)

او...




په پاسنیو مضامینو کې او یا دې ورته ځینو نورو مقالو کې چې د کتاب او مطالعې په باب لیکل شوې دي، که د مطالعې پرستونزو خبرې او بحث وشي، کیسه به ډیره اوږده شي.خو اصلي کیسه داسې ده چې په مطالعه باندې عادت کیدل باید له کوچني والي نه پیل شي.باید په کوچنیوالي کې ماشوم ته د کتاب او مطالعې ارزښت وروښودل شي.باید لاپه ډیر کوچنیوالي کې کتاب ورته ولوستل شي، کیسې او داستانونه ورته واورول شي چې ژبه یې غني شي.ماشوم ته په لوړ غږ سره د کتاب لوستل، دهغه د تخیل له ودې سره مرسته کوي او...موږ نه یوازې دا کار نه کوو، بلکې نورې ډول ډول نادودې هم ورسره کوو.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

هلته په افغانستان کې ډيری ماشومان داسي دي چي ميندې پلرونه يې د دې پرځای چي ورکتون، ښوونځي او پوهنځي ته وليږي، د مزدورئ او ګدايي له پاره يې چمتوکوي.يا يې پلار مړ دی بايد د روزي پيدا کولوپه غم کې وي او يا يې مور او پلار د سواد ښوونځي او لوست په ارزښت نه پوهيږي او...

په اروپا کې چي د وړيا زدکړو شرايط او چاپيريال ښه برابر دی، ډيره سلنه ميندي پلرونه د دې پرځای چي خپل بچيان ښونځی او پوهنځي ته تشويق کړي د پيسو د ترلاسه کولو له پاره يې پيزاري ته ليږي اوپه غوږ کې يې ورته پوکوي چي:«اوس خو پيسي پيدا کړه درس خو هروخت شته!» په دې نه پوهيږي چي د ماشوم او ځوان د زدکړې وخت څه وخت وي او هغه وخت چي تيرشو، بيا نو...

خو د دغو منفي خبرو ترڅنګه مي په دې نږدې ورځو کې د کتاب، مطالعې د فرهنګ د عاملو او رواجولو په برخه اړوند، په ټولنيزو رسنيو کي په دوو خبرونو سترګي ولګيدې چي په رښتيا د خوښی وړ وو او دغو هڅو ته يوڅه هيله من شوم.

زما د مالوماتو له مخي د افغانستان په ځينو ولايتونو کي له دولتي کتابتونونو څخه، شخصي دا ډيرې په ميني سره د فرهنګ او ښووني روزنې په برخه کې فعاله دي.چي له هغي ډلې نه په مشرقي کي د استاد آصف صميم شخصي کتابتون د يادولو وړ دی، خوما يې تر اوسه په دی باب په ميډيا کې کوم رسمي رپوټ نه دی ترسترګوشوی؛ خو د همدې ښو خبرونو په لړ کې په مي په nahimi.dk ويبپاڼه کې بيا هم په مشرقي کي په لغمان کې په الينګار کې ديوه فرهنګي مرکز د جوړيدو خبرتر سترګو شو.د خبرپه يوه برخه کې داسي راغلي دي:

«ګرانو دوستانو! د تيرو دوو کلونو په جريان کې، په ډنمارک کې د افغانستان د فرهنګ ټولني او په الينګار کې د نعيمي تعليمي او صحي بنياد په ګډو هلوځلو او ډنمارک د مهاجرينو د اداري په همکاری موږ وکولای شول چي د ښکلي لغمان د الينګار په سيمه کې، د نړيوال ستاندرد او نورم سره سم يو فرهنګي مرکز او کتابتون د سيمي د شريفو اوسيدونکو د مشکلاتو د حل په خاطرآباد اوکټي ته وسپارو» (۴)

زه د دغسي يو ټول ګټي مرکز جوړونکو ته کور وداني او مبارکي وايم او دې ته مي سترګي په لاره دي چي دا کلتور نور هم عام شي، څو زموږ د ټولني د ځوانانو د سالم مصروفيت او سالمي روزني له پاره يو رينتيني مرکز وي او له مسؤولينو نه يې هيله لرم چي د دې عام المنفعه فرهنګي مرکز په باب په راتلونکو کي مفصل رپوټ خپور کړي.دغه راز زه هيله ور نه کوم چي په دغسي فرهنګي مرکزونو کي د غرض درلودونکو خلکوته د ننوتو او فعاليت زمينه برابره نه شي که نه نو هرڅه به د تشدد په رنګ ورنګوي اومنفي لارې ته به يې سوق کړي.

د مخکتاب په پاڼو کې هره ورځ له داسي نا پسندو شيانو سره مخ کيږم چي زَمولَوي مي او بيا له « بي بي ديموکراسي » نه مي ګيله راځي چي ستا ترنامه لاندې وګوره ځوانان څه دي چي نه کوي،خو هغه بله ورځ مي د مخکتاب د کوڅو يو يار د چا کوم فرهنګي پوانځور لايک کړی و،په ليدو مي يې زړه وغوړيد چي کاته مي د کتاب اومطالعې کيسه وه او د دغه انځور




په اړخ کې يې داسي ليکلي وو:

« دننګرهار ميديوتيک کتابتون ته هره ورځ لسګونه کسان مراجعه کوي ننګرهار ميديوتيک کتابتون ته هره ورځ لسګونه کسان راځي او د مطالعې لپاره کتابونه اخلي. که څه هم چي د ميديوتيک کتابتون ډېر پراخه او غني نه دی، خو ځومره کتابونه، چي شته بيا هم د ختيزو سيمو د ځوانانو د خدمت لپاره چمتو شوي، د ننګرهار ميديوتيک په کتابتون کې د اکثرو فنونو او علومو اړونده کتابونه شته، خو د ژورناليزم د زده کړې برخه په کې تر نورو ډېره ده. ميديوتيک د خپل کتابتون د لاپراختيا او پالني ژمنه کوي.ننګرهار ميديوتيک سنتر» (۵)

څونور انځورونه يې هم ايښي ووچي ځوانان ناست دي او د اخبارونو او کتابونو په مطالعه بوخت دي.شکرمي وايست،په کابل کې د پُل سوخته اوسره پله لاندې ځوانان هم راپه زړه شول بيا مي هم وويل:



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

خدایه څه به شوي وای چې دا ترپله لاندې بې سده ځوانان هم کتاب په لاس، مستې شړقنده ځنې يې باد اړولای او ښوونځي اوپوهنځي ته روان وای اویا یې لپ ټاپ په بکس کې پروت وای اوهره شیبه یې دنړۍ دوروستیو اختراعاتو اوپه خپل مسلک کې دنویو اوتازه مالوماتو په باب مطالعه کولای.




(۵)

دمطالعې اوکتاب دعامیدو په برخه کې دغوپاسنیومثالونواوفعالیتونوته په کتوسره مولړتمه پیدا کیږي چې دښیګڼې په لورى یوامیدواره کننده حرکت شته.موږباید له خوبه راویښ شو،دعلم په زدکړې پسې بډې ووهواوموږباید دغسې وکړو،ځکه چې اوس وخت بدل شوی،جګړه تیزه شوې ،اوپه جګړه کې حرکت اوفعالیت اوپه جګړه کې کارول کیدونکې سلاح هم بدله شوې.دغه انځورته وګورئ چې دپاسنۍ خبرو ښه ګواهي کیدای شي:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ




دغه بحث نه زوړدی اونه هم زړیږي.د ژوند د هرې پاڼې له بدلیدو سره بدلیږي او نوی کیږي؛ځکه زه نه وایم چې د دغوخبرو په پای کې، بلکې وایم چې داوسني بحث او د اوسنیوخبرو  دښه پای له پاره به د لا هڅونې په خاطر د کنفوسیوس دا نه زړیدونکې خبره را واخلم:

« که یوکلن ثمرغواړئ،غنم وکرئ،

که د دوه کلن ثمرهیله لرئ،ونه کینوئ،

که موسل کلن ثمرپه کار وي، خلک وروزئ.»

( کنفوسیوس )

1-http://tolafghan.com/posts/26938

2-http://www.taand.com/archives/3112

3-http://www.bbc.co.uk/persian/afghanistan/2013/04/130423_k05_afghan_book_world_day.shtml

4-http://www.nahimi.dk/web/index.php/ps/2012-08-11-18-15-31?start=40

5 https://www.facebook.com/photo.php?fbid=611630218916950&set=a.102862586460385.5787.100002099323336&type=1&theat



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ